# هېڅ مسلمان ته ستوماني او رنځ، هېڅ غم او خفګان، هېڅ ضرر او غم نه رسيږي آن تر دې چې يو اغزى چې کله يې په پښه کې لاړ شي، مګر دا چې الله جل جلاله به يې ورته د ځينې ګناهونو کفاره وګرځوي

ابو سعيد الخدرى او ابوهريرة رضي الله عنهما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايتوي چې فرمايلي يې دي: «هېڅ مسلمان ته ستوماني او رنځ، هېڅ غم او خفګان، هېڅ ضرر او غم نه رسيږي آن تر دې چې يو اغزى چې کله يې په پښه کې لاړ شي، مګر دا چې الله جل جلاله به يې ورته د ځينې ګناهونو کفاره وګرځوي».
[صحيح] - [متفق عليه دى ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړى دى)]

رسول الله صلى الله عليه وسلم بيانوي چې مسلمان ته چې کومې ناروغ، غمونه، خفګانونه، کړاوونه، مصيبتونه، سخت، وېره او لوږه رسيږي، تر دې چې که يو اغزى يې په پښو کې لاړ شي او ويې دردوي، نو دا ټول به يې د ګناهونو لپاره کفاره شي او ګناهونه به ترې توي شي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3701

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee